PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۹۰۱

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

لسم کال - دویمه دوره، ۹۰۱ مه گڼه، پر له پسې ۱۹۶۸گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د لړم لومړۍ - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق ذوالقعدة الحرام ۱۵ مه ۲۰۱۰ د اکتوبر ۲۳ مه

طی سال روان میلادی ۴۰۰سرباز امریکایی کشته شدند

نیروهای بین المللی حافظ صلح (آیساف) به رهبری ناتو، ازکشته شدن یک سرباز خود در شرق افغانستان خبر دادند.

این خبر در اعلامیه یی که از سوی دفتر مطبوعاتی این نیروها درکابل، به آژانس خبری پژواک مواصلت ورزیده، می افزاید که سرباز مذکور، دیروز در حمله مخالفان مسلح کشته شده است.

اما آیساف محل دقیق رویداد و هویت ص۳

شهرانی:

یک پلان منظم برای استخراج معادن افغانستان تهیه گردیده است

دولت افغانستان، از سنگ های قیمتی خود یک و نیم میلیون دالر به دست می اورد، این مطلب را وحید الله شهرانی وزیر معادن ابراز کرد. شهرانی گفت که حدود ۴۰۰۰ تن در استخراج سنگ های قیمتی در افغانستان مصروف کار اند که دولت از آن سالانه حدود یک و نیم میلیون دالر و استخراج کننده گان از آن ۳۰ میلیون دالر به دست میاورند. وزیر معادن همچنان گفت ۹۰ فیصد سنگ های قیمتی کشور در چهار ولایت و یک ولسوالی تثبیت شده است. وی گفت که این سنگ به کشور های خارجی بخصوص پاکستان قاچاق میگردد. به گفتهٔ وی، دلیل اصلی این قاچاق بزرگ این است که از طرف وزارت معادن بر آنها مالیه هنگفت وضع شده و استخراج ص۳

نیروهای افغان به اندازهٔ قوی نیستند که مسوولیت امنیت را بعهده بگیرند

یک مقام ارشد ناتومی گوید به رغم پیشرفت‌های سریع پولیس افغانستان هنوز آماده برعهده گرفتن مسئولیت‌های امنیتی نیست.

نیروهای امنیتی افغان با وجود داشتن دست آوردهای قابل ملاحظه در سالهای گذشته؛ تا کنون این توانایی را پیدا نکرده اند که مسوولیت امنیت را ازنیروهای خارجی در کشور به عهده گیرند.

این مطلب را سترجنرال ستورات بیار Stuart Beare یک مقام بلند پایه کانادایی درکابل ازطریق ویدیو کنفرانس به خبرنگاران وزارت دفاع ایالات متحده امریکا بیان کرد.

موصوف افزود ،باوجوداینکه نیروهای افغان درچند سال گذشته پیشرفتهای چشمگیری داشته اند، اما امید آن موجود نیست که آنها بتوانند ص۳

د دولت په جوړښت کې د بڼځو ونډه

کابل، اراده – کاونټرپارټ نړیوالې اداري د بڼځې او سیاست تر نامه لاندې د خپلو روز نیزو پروګرامونو په لړ کې دا ځل د دولت په جوړښت کې د بڼځې ونډه تر سرلیک لاندې یو ورځنی روز نیز ورکشاپ جوړ کړ. دا ورکشاپ چې په لسګونو ځوانانو او د شخصي – دولتي پوهنتونونو محصلانو په کې ګډون کړی و، د روان کال د تلې د میاشتې پر ۲۹ نېټه د پنجشنبې پر ورځ په کابل کې جوړ شو.

په دې ورکشاپ کې د دولت په جوړښت کې د بڼځې پر رول او هماداشان په دولتي ارګانونو کې د هغوی د ونډې په هکله هر اړخیز او ګټور معلومات وړاندې شول. هماداشان د دولت د مفهوم او کلمې او د دې تر څنګ د دولت د کلمې د پیدایښت او په دې اړه د پوهانو پر نظرونو هم رڼا واچول شوه. هماداشان د دولت پر ماهیت او څرنګوالي بحث وشو، د دولت ارکان معرفي شول او په دې لړ کې د دولت پر دریو ګونو قووو هم رڼا واچول شوه او په دغو دریو واړو قووو کې د بڼځې پر رول او ونډې باندې بحث وشو او هغه خنډونه او بیا د هغو لارې چارې وړاندې شوې، چې په دې برخه کې د بڼځو پر وړاندې پرتې دي.

د دغه ورکشاپ یوې تنې مسوولې یلدا رویاد ورکشاپ د جوړښت او موخې په هکله داسې وویل: ((زمونږ ننني پروګرام هم د بڼځې او سیاست په برخه کې د روز نیزو ورکشاپونو له جملې نه یو دی. زمونږ د نن ورځې ګروپ د ځوانانو ګروپ دی، چې تر ډېره په کې د خصوصي او دولتي پوهنتونونو محصلین ګډون لري. نن دوی ته د دولت په جوړښت کې د بڼځې د رول او ونډې په هکله تر بڼګ ورکول کېږي، چې زمونږ د یوې همکارې وړمې عبدالرحیمزی له خوا مخ ته وړل کېږي. د دغه ډول ورکشاپونو د دایرولو اغېزې دادي، چې په سیاسي برخه کې د بڼځو د ونډې او ګډون ملاتړ وکړي، بڼځې دا ډول مسایل په ټولنه کې له نورو سره شریک کړي او په دې ډول خلک د دې ملاتړ وکړي، چې بڼځې په سیاست کې برخه اورول شي.))



د دغه ورکشاپ یو بل تن ګډونوال محمد یوسف رضایي ارادې ورځپاڼې ته وویل: ((دا ډول پروګرامونه د عامه پوهاوي او هماداشان د ذهنیتونو د ودې او پرمختګ او د جنسیتي تضادونو د مخنیوي په لار کې ډېر ګټور او اغېزناک دي. مورږ په دې ورکشاپ کې نه یوازې د بڼځې د حقونو د خوندیتوب، بلکې د ټولنې د هر وګړي د حقونو د خوندیتوب په هکله پوهه ترلاسه کوو.

نومورې د بڼځو پر وړاندې د مثبت تبعیض په هکله وویل، تبعیض اصلاً تفکیک او یو شی بل شي ته په ارزښت قایلېدو ته وایي. په اساسي قانون کې راغلي، چې د ټولنې د هر وګړي پر وړاندې، هغه که نارینه وي او که بڼځینه هېڅ ډول تبعیض نشته. په دې اساس باید هېڅ ډول تبعیض وجود ونه لري. نومورې زیاته کړه په اوسمهاله شرایطو کې باید د مثبت تبعیض مسئله لنډمهاله وي، تر څو بڼځې وکولای شي ورو ورو د مساواتو او برابرۍ پلو ګام پورته کړي او له خپلو حقونو برخمنې شي او په دې توګه زما په اند د مثبت تبعیض پر ځای د ملاتړ کلمې کارونه غوره او پر ځای خبره ده.))

د دغه ورکشاپ یو بل تن ګډونوال او د کاتب د لوړو زده کړو خصوصي موسسې محصل شرین اغافرشید وویل: ((د دغه ډول ورکشاپونو موخه داده، چې پر نارینه وو سربېره بڼځې هم په ټولنه کې وده وکړي او همداشان د هغوی ذهنیتونه وده وموي، ځکه په داسې یوه هېواد کې چې د پرمختیا په حال کې وي، باید ذهني ودې پراختیا او پرمختیا ته لومړیتوب ورکړل شي.

نومورې زیاته کړه، زمونږ ننني موضوع د دولت په جوړښت کې د بڼځو پر رول او ونډه باندې راڅرخي. که څه هم بڼځه د ټولنې نیمایي برخه جوړوي، نو په دې توګه دا اړینه ده، چې بڼځه هم په حکومت او حکومتداری کې برخه واخلي او د نارینه وو ترڅنګ له هغوی سره په همغږۍ توګه همکاري وکړي او د هېواد په هر اړخیزه بیارغونه کې مرسته وکړي.

نومورې دا هم وویل، چې بڼځه کولای شي د اسلام په رڼا کې هغه کارونه چې پر توان یې پوره وي ترسره کړي. په حکومتداری کې هم باید هغه کسان چې بڼه فکر کولای شي، بڼه اراده ولري باید



کار وکړي او خپل هېواد اباد کړي.

هغه ستونزې چې د بڼځو پروړاندې په دې برخه کې شته، دادي چې مورږ په یوه افراطي ټولنه کې ژوند کوو، ځکه نارینه هر څه د ځان ګڼي. بل دا چې بڼځو ته اجازه نه ورکول کېږي، چې په سیاسي چارو کې برخه واخلي او دا په خپله د دوی پر ورسته پاتې والي دلالت کوي. په دې ډول د دوی لپاره غوره اونبه لار داده، چې د زده کړې لوری غوره کړي او له دې لارې خپل حق او امتیاز ترلاسه کړي.))

د ورکشاپ یوه بل ګډونوال سید معشوق الله سادات وویل: ((له څو میاشتو راهیسې زه په دې پروګرامونو کې ګډون کوم. زمونږ د

نن ورځې موضوع په دولت کې د بڼځو ونډه ده. دولت دریځ قوي لري، چې یوه یې اجراییه، بله مقننه او درېیمه یې قضاییه ده. په دې ډول بڼځه کولای شي د دولت په دریو ګونو قووو کې د نارینه وو ترڅنګ برخه واخلي. ده زیاته کړه، چې پخوا د بڼځو لپاره شرایط برابر نه وو، چې په سیاست کې برخه واخلي، خو اوس له نېکه مرغه هغه شرایط برابر شوي، چې بڼځې هم په سیاست کې برخه واخلي، ځان کاندید کړي او همداشان په دولتي ارګانونو کې له نارینه وو سره اوږه په اوږه کار وکړي. نومورې په په دې برخه کې د دا ډول ورکشاپونو جوړول اړین او ارزښتمن وګڼل.))

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

د ولسي جرګې لومړنۍ پایلې، ستونزې او د کاندیدانو ترمنځ د تاوتریخوالي ګنګوسې

د ولسي جرګې د ټاکنو لومړنۍ پایلې د تلې یا میزان د میاشتې پر اته ویشتمه نېټه د چهارشنبې پر ورځ اعلان شوې. په داسې حال کې چې په ټاکنو کې د شویو پراخو درغلیو له امله دا پایلې ځوځولې ځنډول شوې وې. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسي جرګې د ټاکنو سل په سلو کې لومړنۍ پایلو د اعلان پر مهال وویل، په ځینو مرکزونو کې یو میلیون او درې سوه زره جعلي رایې هم باطلې شوي دي. د کمېسیون مشر تابه وویل: ((په دغو ټاکنو کې د رایې اچونې شاوخوا پنځه میلیونه او شپږ سوه زره رای پاڼې کارول شوې، خو د اعتبار وړ پېژندل شوې رایې ځلور میلیونه، دوه سوه او پنځه شپېته زره او درې سوه اوه ځلوېښت دي.))

د کمېسیون چارواکو وویل، چې له ډېرو ننګونو سره سره، دغه کمېسیون هڅه وکړه، ترڅو د ټاکنو پایلې په ړنه توګه اعلان کړي. دوی له ۲۲۴ هغو کاندیدانو څخه هم یادونه وکړه، چې د ټاکنیزو سرغړونو له امله د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته ورپېژندل شوي دي. دوی همدارنګه وویل، د اوروستۍ پایلې نه دي او وروستۍ پایلې به د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون له خپړنو وروسته په رسمي ډول اعلان شي.

په دې توګه اوس چې د دې فرصت رارسېدلی، چې د ټولو ټاکنیزو سرغړونو او شکایتونو په اړه تصمیم ونیول شي. باید وویل شي، چې په دغو شکایتونو کې بنایي داسې ډېر شکایتونه شته وي، چې د ټاکنو پر ورستیو پایلو باندې ژور تاثیر پرېباسي، ځکه د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون په وینا تراوسه دوی پر دې نه دي توانېدلي، چې زرګونه شوي شکایتونه په سمه او دقیقه توګه وڅېړي او د په اړه یې تصمیم ونیسي. نو که چېرې دوی په رښتونې او سمه توګه د دغو شکایتونو په اړه خپړنه وکړي او د درغلګرو کاندیدانو پر وړاندې قانوني چلند او د هغوی په اړه سمه پرېکړه وکړي، نو بنایي د ټاکنو پر لومړنیو پایلو ډېر اغېز واچوي، خو که چېرې کمېسیون تر کورنیو او بهرنیو فشارونو لاندې راشي، نو بنایي همدا اوسنۍ لومړنۍ پایلې د ورستیو پایلو په بڼه کټ مټ او یا هم په ډېر جزوي بدلون سره راووځي، نو اوس به وګورو چې کمېسیون په دې برخه کې څومره خپلواک او بریالی راوځي.

بله مهمه خبره په دې برخه کې دا ده، چې د ټاکنو کمېسیون د ۲۲۴ کاندیدانو په اړه چې د دوی په وینا سرغړونې یې کړي، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته ورپېژندلي. په دې ډول دا څرګنده نه ده، چې په دغو کاندیدانو کې د لومړنیو پایلو پر بنسټ اوسني بریالي کاندیدان هم شته او که نه؟ که چېرې شته وي، نو د دوی د دغلیو څېړل او په اړه یې پرېکړه کول هم پر ټاکنو اغېز شیندلای شي، چې دا مسئله تر رښتوني حل وروسته جوتېدای شي، خو که چېرې کمېسیون دا ستونزې بابېزه وګڼي او هسې یې له سره تېرې کړي، بنایي د هېواد پر روان سیاسي کړکېچ ډېرې نوې اغېزې هم وشیندي. بل پلو له دې ټولو ستونزو سره سره په ځینو ولایتونو کې د ځینو کاندیدانو ترمنځ شخړې او جنجالونه هم راپورته شوي، چې نبه او غوره ببلګه یې څو ورځې وړاندې په زابل کې د کاندیدانو ترمنځ اخ و ډب و. په دې اساس بنایي ځینې کاندیدان چې ولسي جرګې ته یې لار پیدا کړې، له ځینو هغو پخوانیو کاندیدانو سره چې دا ځل ناکام پاتې شوي، لانجې او دوښمنۍ پیل کړي، چې دا کار په خپله په هېواد کې د یو ډول تازه ناامنۍ او ګوابښونو پیغام له ځان سره لرلای شي. په همدې لړ کې ځینې ناتایید شوي راپورته شته، چې ځینو ناکامو کاندیدانو، د دې پر ځای چې له صبر څخه کار واخلي او د هېواد په سوکالۍ او ابادۍ کې برخه واخلي، سر له اوسه په ناامنیو لاس پورې کړی او په دې توګه غواړي خپل قصد واخلي او د خپل زړه براس وباسي او په دې توګه په هېواد کې د ناارامیو لړۍ نوره هم غښتلې او پیاوړې کړي.

د سولې عالي شورا طالبانو ته څه ډول امتیازات ورکوي؟

میوند

په افغانستان کې جوړې شوې د سولې عالي شورا په دې وروستیو کې اعلان کړی، چې طالبانو ته به سربېره پر اقتصادي امتیازونو سیاسي امتیازونه هم ورکړل شوي. د سولې دې شورا خوشبیني ښوولې، چې له وسلوالو طالبانو سره به د خبرو اترو او سولې ته د هغوی د راماتولو په لړ کې به پرمختګ وکړي او په دې ډول به د دوی له خوا د سولې پیل شوې پروسه په بریالیتوب سره پای ته ورسېږي.

په همدې توګه د افغانستان د سولې عالي شورا ویاند وایي، طالبانو ته د یو لړ اقتصادي او سیاسي امتیازونو په ورکولو سره بنایي طالبان له دولت سره د سولې خبرو ته راضي شي.

د دغې شورا چارواکو ویلي چې د شورا کړنلاره یې بشپړه کړې ده او اوس له طالبانو سره د خبرو د میکانیزم پر سر غور کوي. دغه شورا چې پر شپږو جرګه ګیو وېشل شوې ده او لومړۍ دنده به یې له طالبانو د سولې په تړاو اړیکه نیول وي.

د سولې د عالي شورا ویاند مولوي قیام الدین کشاف خبریالانو ته وویل: ((د درې کسان (عبدالحکیم مجاهد، اسدالله وفا او مولوي عطاالله لودین) د دغې شورا د مرستیالانو په توګه وټاکل شول.)) که څه هم طالبانو له افغان دولت سره د سولې خبرې رد کړې دي، خو د سولې عالي شورا غړي ټینګار لري چې بې پرې کار به کوي. داسې رپوټونه هم شته چې وایي په دې کې شک نه شته، چې په تېرو ۱۸ میاشتو کې د طالبانو بېلابېلو ډلو او د مختلفو کچو مشرانو یې له افغان حکومت سره د سولې په تړاو خبرې کړې دي، خو لاهم د مخامخ خبرو د پیل په مخ کې لوی خنډونه شته.

څه موده وړاندې د بي بي سي راډیو په حواله، بناغلي کرزي له سي ان ان تلوېزیون سره په یوې مرکه کې ویلي وو، چې په افغانستان کې تر نهه کلنې جګړې وروسته له طالبانو سره د جګړې د پای ته رسېدا په موخه خبرې شوې دي.

حامد کرزي د سي ان ان تلوېزیون خبریال لارې کینګ ته په واشنګټن پوست کې له طالبانو سره د افغان حکومت د پخلاینې د خبرو په اړه د خپاره شوي رپوټ په اړه وویل "دا د دواړو غاړو ترمنځ د لوړې کچې پټې خبرې وې او موږ له طالبانو سره دا خبرې په دې موخه وکړې، چې هغوی هم د دې هېواد بچیان دي."

په داسې حال کې چې ځینو څېړونکو د جلا جلا قوي او نظریاتي ډلو دا رابنکېلونه د پخوانیو دردونو د هېرولو د یوې هڅې په توګه ستایلي، نور یې د بناغلي رباني سابقې ته په پام سره اغېز دومره ډېر نه بولي او وایي، چې بناغلي رباني ته به د ځینو دلایلو له امله ګرانه وي چې د طالبانو باور راخپل کړي.

دا هغه څه وو، چې رسنیو یې په اړه تبصرې او راپورونه خپاره کړي وو، خو اصله خبره دلته ده، چې ایا طالبانو په دې اړه تر اوسه پورې کوم منفي یا مثبت غبرګون ښوولی او که نه؟ ځکه د سولې خبرې باید دوه اړخیزې وي، نه یو اړخیزې. که څه هم د سولې عالي شورا په دې برخه کې د زیاتو پرمختیاوو خبره کوي او هیله لري، چې د دوی له خوا پر کار اچول شوې تګلاره

۳مخ

آمار کشته و زخمیهای انفجار بر موتر عروسی به ۲۴ تن رسید



آمار تلفات انفجار ماین کنار جاده بر یک موتر عروسی در ولسوالی دلارام ولایت نیمروز، به ۱۴ کشته و ۱۰زخمی افزایش یافته است.

این حادثه، زمانی اتفاق افتاد که موتر نوع فلاینکوچ، برای انتقال عروس از ولسوالی شیندند هرات، به سمت شهر زرنج در حرکت بود.

مل پاسوال عبدالجبار پردلی قوماندان امنیه، به آژانس خبری پژواک گفته بود که در این حادثه ۱۰ تن از سرنشینان موتر، کشته و ۴ تن دیگر آنان نیز زخم برداشتند.

اما موصوف بعدا به پژواک گفت که تلفات این حادثه، به ۱۴ کشته و ۱۰زخمی رسیده است.

پردلی، کشته شده گان این حادثه را ۵ زن، ۵ طفل و ۴ مرد عنوان کرد و افزود که آمار دقیق تلفات این حادثه، بعد از انتقال اجساد و زخمیها مشخص شده است.

به گفته وی، زخمیهای این حادثه توسط نیروهای ائتلاف به شفاخانهٔاین نیروها در ولسوالی دلارام انتقال داده شده، که وضعیت دو تن از آنان وخیم میباشد.

در عین حال، در اعلامیهٔ مطبوعاتی ریاست جمهوری، که به پژواک مواصلت کرده، آمده است حامد کرزی رییس جمهور، این بمب گذاری را که باعث کشته و زخمی شدن تعدادی از افراد بی گناه ملکی دراین ولایت گردید، به شدت محکوم کرده است.

در اعلامیه همچنین علاوه شده که حامد کرزی، با تقبیح شدید این عمل ضد انسانی گفته است: " بمب گذاری در مسیر رفت و آمد مردم عام و قتل افراد بی گناه، کار افراد وحشی و جاهلی است که با افغان ها دشمنی دارند و از احکام دین مقدس اسلام که قتل نفس را گناه کبیره و نابخشودنی خوانده است، آگاهی ندارند."

گفتنی است یک ماه پیش نیز در منطقهٔ نالان ولسوالی دلارام، یک موتر ۳۰۳با ماین کنار جاده برخورد کرده بود، که ۲۵کشته و زخمی برجا گذاشت

نیروهای افغان به اندازهٔ قوی ...

امنیت را به تنهایی تامین نمایند .

او گفته است : " نیروهای افغان از ما متوقع است تا درایجاد سیستم اداری با آنها کمک نماییم ، آنها میخواهند تا به نیروهای پولیس آموزش داده شود وآموزگاران افغان را آماده سازیم . "

موصوف دراین کنفرانس ویدیویی همچنان یاد آور شده است که نیروهای افغان تا کنون به جامعه جهانی متکی بوده اند تا در عملیات آنها را حمایت نماید .

ستورات بیار خاطرنشان کرده است که نیروهای افغان راه طویلی را درپیش دارند تا بتوانند امور امنیتی کشور را بدست گیرند .

همچنان این مقام کانادایی گفته است که نیروهای افغان دراین راستا سریع پیشرفت میکنند تا بتوانند به هدف رسیده گی به امور خود، مسوولیت وصلاحیت بیشتر کسب نماید .

منبع یاد آورشده است که درحال حاضر رقم پولیس ملی به ۱۲۰ هزار رسیده است درحالیکه رقم مذکور درسال گذشته ۹۵ هزار بود .

موصوف ضمن اینکه اظهار امید واری کرد که تعداد پولیس ملی درسال آینده بیشتر از این گردد ، افزود : " ما تلاش میکنیم که درسال آینده تعداد پولیس به ۱۳۴ هزار برسد ، ما توانایی این کار را داریم ، ما به اندازه کافی آموزگار داریم ، اما بعد از سال ۲۰۱۱ ما به آموزگاران بیشتر نیاز خواهیم داشت . "

براساس گزارش خبرگزاری شینهوا، این مقام ارشد ناتو همچنین بر چالش‌های پیش روی آموزش امور نیروهای افغان و همچنین حرفه یی شدن ارتش و پولیس افغان اشاره کرده گفت: این موضوع به کار آمدی اقدامات ضد فساد مالی در افغانستان بستگی دارد.

وی به این موضوع اعتراف کرد که به رغم حصول پیشرفت‌های سریع ، پولیس افغانستان هنوز آماده برعهده گرفتن مسئوولیت‌های امنیتی نیست.

طی سال روان میلادی ۴۰۰ سرباز...

سرباز کشته شده را واضح نکرده است.

باید گفت که در ولایات شرقی، سربازان امریکایی در چوکات آیساف مستقراند.

با کشته شدن این سرباز طی سال روان میلادی، رقم سربازان کشته شدهٔ امریکایی در مناطق مختلف افغانستان، به ۴۰۰تن رسید؛ این درحالیست که امسال درکشور به طور مجموعی ۵۹۸ سرباز خارجی به قتل رسیده است.

در میان سربازان کشته شده طی سال روان میلادی، علاوه بر ۴۰۰امریکایی؛ ۹۶بریتانیایی و ۱۰۲ سرباز، مربوط کشورهای دیگر عضو آیساف می باشد.سال گذشته ۵۲۱سرباز خارجی در کشور جان باخته بودند، که ۳۱۷ تن آنها را سربازان امریکایی تشکیل میداد.

د سولې عالي شورا طالبانو ...

به د سولې په برخه کې ډېر ګټوره وي، خو تراوسه پورې په دې برخه کې د وسلوالو مخالفینو له لوري کوم مثبت غبرګون نه دی ښوول شوی. د وسلوالو طالبانو له لوري د سولې خبرې په کلکه رد شوي دي. نو اوس چې د سولې عالي شورا دا خبره کوي، چې له وسلوالو طالبانو سره یې د سولې په اړه پټې خبرې کړې او له بلې خوا وسلوال طالبان دا خبره نه مني، چې ګواکې دوی خبرې کړي، نو په دې توګه به سړی څنګه پر دې خبرو باور وکړي. له بلې خوا په داسې یوه هېواد کې چې هره ورځ په کې د جګړې کرښې تودېږي او هره ورځ د بهرنیو چارواکو له خوا د نورو بهرنیو سرتېرو د راتګ غوښتنې کېږي، څنګه به سوله کېږي او وسلوال مخالفین به پر کوم اساس سولې ته غاړه ږدي، څکه د بهرنیو سرتېرو زیاتول او د هغوی شتون د وسلوالو مخالفینو لپاره تر ګردو مهمه مسئله ده او دوی بار بار دا خبره کوي، چې ترڅو بهرنیان په افغانستان کې موجود وي، دوی به له افغان دولت سره د سولې هېڅ ډول خبرو ته هم غاړه کېږدي. حال دا چې کیسه داسې نه ده، بهرنیان د دې پر ځای چې ځان ته د وتلو لپاره لارې چارې ولټوي، د خپل پایښت او پاتې کېدو لپاره لارې لټوي، چې غوره بهلګه یې په افغانستان کې اوږدمهاله پوځي پروژې دي، چې د دوی پر اوږدمهاله پایښت دلالت کوي. سره له دې چې دوی ظاهراً ډېرې نمایش چیغې وهي، چې افغانانو ته به د پوځي چارو واک سپارې او دوی به ورو ورو له دې هېواده پښې سپکوي.

په هر حال دا هغه لویه ستونزه ده، چې د سولې د عالي شورا پر وړاندې پرته ده. له وسلوالو طالبانو او اسلامي حزب سره تر دې پخوا هم خبرې شوې، خو دهغوی د شرایطو په نه منلو سره بې نتیجې پای ته ورسېدې. نو دا ځل هم چې د سولې عالي شورا غواړي له طالبانو او اسلامي حزب سره خبرې وکړي، نو په لومړي سر کې اړینه داده، چې په افغانستان کې د بهرنیو پوځونو د پاتې کېدو لپاره یو مهالوېش جوړ کړي، ځکه دا ټکی له وسلوالو مخالفینو سره په خبرو کې تر ټولو ډېر مهم او د ډېر فوکس وړ دی، بل دا چې د هغوی شرایطو ته هم باید درناوی وشي. که چېرې دا شورا دا خبرې په پام کې ونه نیسي، نو د سولې پر وړاندې د دوی هره هڅه بې ګټې او بې اغېزې ده. همداشان د شورا داخبره چې دوی به طالبانو ته سیاسي او اقتصادي امتیازونه ورکوي، که په رښتیا هم پلې شي او طالبانو ته د هغوی د غوښتنې مطابق دواړه ډوله امتیازونه ورکړي، نو د سولې په برخه کې پرمختګ راوستلای شي او که نه یوازې د محدود امتیاز په ورکولو سره هغوی ښایي دې ته حاضر نه شي، چې سولې ته غاړه کېږي. که شورا په رښتیا هم د سولې لپاره جوړه شوې وي او د سولې لپاره کار کوي، نو باید د دولت ټول امتیازونه هغه که مادي دي او که سیاسي په مساویانه او عادلانه توګه داسې ووېشي، چې هغه وسلوالو مخالفینو ته هم د منلو وړ وي او که هر څه (میم زور ما ټول ز ما) خبره وي نو په دې صورت کې ښایي مخالفین هېڅکله هم د تش په نامه د سولې خبرو ته حاضر نه شي.

یک پلان منظم برای استخراج ...

کننده گان، مقدار کم را به دولت نشان و متباقی را قاچاق مینمایند.

وی میگوید که در این زمینه، وزارت معادن تا حد زیاد مقصر است، زیرا از آنعده افراد که سنگ های قیمتی را استخراج مینمایند، ۱۰فیصد سهم و ۱۲،۵ فیصد مالیه اخذ میکند.

قرار معلومات وی، وزارت معادن، چندی قبل اعلان کرده که هر کسی میتواند با امکانات خود معادن سنگ های قیمتی را استخراج نماید، اما به این شرط که ۱۰فیصد آنرا به این وزارت بدهد.

شهرانی میگوید که اخذ مالیه از استخراج کننده گان خلاف نورم های جهانی است، زیرا در کشور های دیگر، تنها دو فیصد مالیه اخذ میشود.

شهرانی همچنان گفت که بررسی های اخیر نشان داده که تنها ۳۰ فیصد زمین افغانستان، ذخایر طبیعی به ارزش الی سه تریلیون دارد.

شهرانی میگوید که یک پلان منظم را برای استخراج معادن افغانستان تهیه کرده که به اساس آن، دولت افغان ،پنج سال بعد از معادن ۲،۱ میلیارد دالر و ۱۵ سال بعد ۵،۳ میلیارد دالر عواید به دست می آورد.

وی افزود که به زودی شماری از معادن کشور به شمول معدن آهن حاجی گک، برای داوطلبی به کمپنی های خارجی گذاشته خواهد شد.

قرار اظهارات وی، صحبت ها در مورد احداث خط آهن از تورخم الی کابل و از کابل الی حیرتان با یک کمپنی انگلیسی جریان دارد.

سه محافظ کاروان اکمالاتی کشته و ۱۳ موتر حریق گردید

کاروان اکمالاتی نیروهای آیساف در زابل مورد حملات تهاجمی مخالفان دولت قرار گرفت که در نتیجه ۱۳ وسیله نقلیه حریق و سه محافظ آن کشته شدند .

محمدجان " رسول یار" سخنگوی والی زابل به آژانس خبری پژواک گفت که در حادثه شب گذشته درمنطقه جلدک ولسوالی شهر صفا به وقوع پیوست .

موصوف میگوید که این کاروان از زابل به طرف کندهار درحرکت بود که در منطقه یادشده ۱۳ موتر آن حریق وسه محافظش کشته شد .

موصوف دست داشتن طالبان در این رویداد را نیز رد نکرد ، اما گفت، زمانی که پولیس به محل رسیدند ، مشکوک شدند که این سیزده موتر توسط خود محافظان کاروان حریق گردیده است .

وی گفت: که پولیس، ۶۹ محافظ این کاروان اکمالاتی را خلع سلاح نمودند .

موصوف در مورد افراد خلع سلاح شده چیزی نگفت ، اما علاوه کرد که اسلحه افراد یادشده نزد پولیس است .

موصوف میگوید که منطقه توسط اردوی ملی و پولیس محاصره گردیده است .

نیروهای آیساف و طالبان تا حال در این مورد چیزی نگفته اند . گفتنی است که حدود یک ماه قبل نیز ۱۵ موتر اکمالاتی نیروهای آیساف در ولسوالی شهر صفا توسط طالبان حریق گردیده بود .



د ژیړې اوسیدونکو ته به څوک تاوان ورکړي؟

د کندهار د ژیړې ولسوالي اوسیدونکو په یوه غونډه کې له دولت څخه د عملیاتو پر مهال دوی ته د اوښتي مالي زیان د تاوان د ورکولو غوښتنه وکړه.

زیانمن شوي کسان وایي چې، د عملیاتو پر مهال د دوی کورونه او باغونه له منځه تللي دي او دولت یې باید تاوان ورکړي.

د ژیړې ولسوالي اوسیدونکو دغه غوښتنه په هغه غونډه کې وکړه، چې ورمه ورځ د دې ولسوالي په حوض مدد سیمه کې د شاوخوا دوه سوه قومي مشرانو کندهار والي په سویل کې دایساف ځواکونو د عمومي قومندان تورن جنرال نیک کارتر او نورو دولتي چارواکو په ګډون جوړه شوې وه.

د دې ولسوالي د ګڼو کلیو استازو او قومي مشرانو کندهار والي او ورغلو چارواکو ته وویل په عملیاتو کې یې کورونه، باغونه له منځه تللي دي او د دې په بدل کې باید له دوی سره مرسته وشي.

د خلکو په خبره چې ښکېلې غاړې د دوی ژوند ته پاملرنه نه کوي او ډېرې وختونه د جګړو پر مهال عام وګړي له ځاني او مالي زیان سره مخ کېږي، حاجي عبدالصمد د حوض مدد سیمې د خلکو په استازیتوب په ژړغوني غږ ورغلو چارواکو ته وویل : (له خپلو ځایو څخه وتلي یو، د دې خلکو د لاسه چې دې خلکو (وسلوالو طالبانو) پر تاسې ټکان کول تاسې ټکان پر مورږ کول اوس چې تاسې وایاست چې امنیت راغلی، مورږ راغلو تاسې ولې زمورږ باغونه خرابوئ؟ ولې زمورږ کورونه خراب وئ؟ کورونو او باغونو څه ګناه کړې؟)



قومي مشر حاجي شیر محمد وویل چې، په بمبار کې یې کورا و باغ له منځه تللي، خو هیڅ یې هم پوښتنه نه ده کړې : (زمورږ کورنه وران دي، بمبار شوي دي، پنځه جریبه ملک مې اوار شوی، هغه کسان چې زمورږ نمایندګان دي، په ستر ګومونه دي لیدلي، یو سړی مو یوځای بل مو بل ځای استوي، زه په ټول هېواد کې قسم په خدای که د سر پناځای لرم.)

د کندهار والي توریالي ویسا خلکو ته وویل چې په ژیړې ولسوالي کې به د ټولو زیانمنو شویو کسانو یو لېست جوړ او تاوانونه به ورکړل شي : (د تاوانو په ارتباط تاوانونه رسېدلي، د دې خلکو د تاوان اندازه معلومه نه ده چې د چا ځومره او څه شی زیانمن شوي، مورږ به د دوی یو لېست جوړ کړو او ټولو ته به د امکان تر حده پر خپل وخت تاوان ورکړل شي)

دازادي راډیو د راپور له مخې، د ژیړې ولسوالي اوسېدونکي پر داسې مهال په عملیاتو کې د خپلو کورنو او باغونو د لمنځه وړلو تاوان غواړي چې د کندهار په دوو نورو ولسوالیو ارغنداب او پنجوایي کې هم عملیات روان دي.

امریکا و پاکستان با همکاری درجهت برقراری صلح در افغانستان توافق کردند

رییس جمهور امریکا در نشست واشنگتن پیشرفت روابط پاکستان و کشورش به سوی همکاری های استراتژیک را مورد تحسین قرار داد.

به گزارش خبرگزاری (ایسنا) به نقل از خبرگزاری فرانسه، بارک اوباما، رییس جمهور امریکا، به رغم تشدید فشارهای تیم امنیت ملی کشورش درخصوص پناهگاه های امن افراطیون در پاکستان، در مذاکرات استراتیژیک امریکا و پاکستان اظهار داشت که در طول سفر امسالش به آسیای جنوبی، به پاکستان سفر نخواهد داشت.

با این حال وی افزود: در سال ۲۰۱۱ به پاکستان می رود و نیز میزبان آصف علی زرداری، رییس جمهور پاکستان، در واشنگتن خواهد بود.

اوباما در این نشست که با حضور شاه محمود قریشی، وزیر امور خارجه پاکستان و جنرال اشفاق کیانی، رییس ارتش پاکستان برگزارشد، بر اهمیت مذاکرات استراتیژیک در " پیشبرد روابط دو کشور به سوی همکاری صحیح بر پایه‌ی احترام متقابل" تاکید داشت.

هر دو طرف در مورد " اهمیت همکاری برای دستیابی به صلح و ثبات در افغانستان" اتفاق نظر داشتند.

ملاقات هیئات پاکستانی با اوباما در روز بازگشایی سومین دور مذاکرات استراتیژیک که به صورت گسترده و به منظور توسعه روابط دو کشور در ارتباط با جنگ با شبه نظامیان افراطی انجام می‌شود، صورت یافت.

مقام ها در طول این نشست سه روزه درباره تمام مسایل نظیر منابع آب و انرژی به مباحثه خواهند پرداخت، اما مسایل عمده مورد بحث، حملات و درگیری‌های ضد تروریستی با شبه نظامیان در نواحی مرزی و اثرات جنگ افغانستان بر روابط دوطرفه امریکا و پاکستان بود.

قریشی ضمن تقدیر از تصمیمات اوباما در زمینه سفر به پاکستان، ناخشنودی اسلام آباد را نسبت به تنش در روابط که کشته شدن اخیر دو سرباز مرزی پاکستان توسط هلی‌کوپتر نیروهای ناتو را در پی داشت، ابراز کرد.

قریشی تصریح کرد: مبارزه جهانی علیه تروریزم به دنبال همکاری بین‌المللی تاکنون پیشرفت داشته است. لازم است عملیات‌های ضدتروریستی تقویت و مورد حمایت قرار گیرند. ما قبلا این موضوع را بیان کرده‌ایم و من بار دیگر تاکید می کنم که مسایل مربوط به استقلال پاکستان قابل مذاکره نیست.

قریشی خاطرنشان کرد: جنگ علیه شبه نظامیان " یک ضرورت اخلاقی و استراتیژیک" برای پاکستان بوده است. این کشور بدون شک و تردیدی با افراطیون و تروریست ها خواهد جنگید زیرا آسیب های بسیاری از جانب آنان متحمل شده است.

با این وصف، اوباما پیش از ملاقات با هیئات پاکستانی با تیم امنیت ملی در خصوص درگیری‌ها در مرز افغانستان و پاکستان گفت‌وگو کرد. تیم امنیتی در خصوص تلاش های صلح جویانه در افغانستان و نیاز به افزایش فشار بر پناهگاه امن افراطیون سخن گفت.

ریچارد هالبروک، فرستاده ویژه امریکا در افغانستان و پاکستان گفت: دو طرف در جنگ علیه افراطیون به " پیشرفت چشمگیری" دست یافته‌اند، اما " اقدامات دیگری برای انجامُ وجود دارد".

امریکا کمک‌های نظامی به قطعات ارتش پاکستان مظنون به نقض حقوق بشر را متوقف کرد

یک مقام ارشد امریکا اعلام کرد: دولت امریکا در حال متوقف کردن کمک‌ها به برخی از قطعات نظامی پاکستان به دلیل مشارکت احتمالی آنها در نقض حقوق بشر از جمله کشتار غیر قانونی و شکنجه است.

به گزارش خبرگزاری (ایسنا)، این مقام رسمی امریکا خاطرنشان کرد که کمک ها به قطعات نظامی پاکستانی که در نقض حقوق بشر و تشویق به انجام این کار دخالت داشته‌اند تحت لایحه سال ۱۹۹۷ که توسط سناتور" پاتریک له‌یی" تنظیم و اجرا شد، متوقف شده است.

تحت این لایحه کمک های نظامی ارتش امریکا به نیروهای مسلح کشورهای خارجی که مظنون به انجام کشتار و نقض حقوق بشر هستند، متوقف می‌شوند.

براساس گزارش خبرگزاری اسوشیتدپرس، این مقام رسمی امریکا در ادامه خاطر



نشان کرد: در راستای این طرح ما کمک‌ها به یک سری یگان های نظامی پاکستان را به دلیل نقض حقوق بشر متوقف می‌کنیم. در عین حال هنوز به طور دقیق مشخص نیست که تصمیم توقف کمک ها به این یگان های نظامی پاکستان چه زمانی اجرا خواهد شد و اینکه چه تعداد یگان های نظامی ما پاکستان را تشویق می‌کنیم تا آموزش‌های امور حقوق بشر را بهبود بخشد و در مسیر بهبود شرایط حقوق بشر در این کشور گام بردارد.

ارتش پاکستان شامل این توقف کمک‌ها خواهند شد.

روزنامه نیویارک تایمزدو روز قبل موضوع توقف این کمک به قطعات نظامی پاکستان را منتشر کرد.

توقف کمک‌های امریکا به قطعات پاکستانی مظنون به نقض حقوق بشر تاثیری بر حمایت‌های امریکا از ارتش پاکستان نخواهد گذاشت.

این اعلام قرار است درپایان مذاکرات استراتیژیک بلند پایه در واشنگتن میان مقامات امریکایی و پاکستانی از جمله جنرال اشفاق پرویز کیانی، رییس ارتش پاکستان انجام شود.

کیانی نیز در مذاکره با مقام های امریکایی قول داد که شرایط اجرای حقوق بشر در ارتش پاکستان را بهبود بخشد.

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com